د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعاتو آمريت

اونیزه راستنیدنه عودت هفته نامه



(٦٠)ګڼه غبرګولی ۱۴۰۴: شماره (٦٠) جوزا ۱۴۰۴ :صفحه اول:لومړی مخ



## د مهاجرينو او راستنېدونكو چارو سرپرست وزير محترم مولوي عبدالكبير د پنجشير د والي حافظ محمد آغا حكيم په مشرۍ د ياد ولايت له يو شمېر سمه ييزو مسوولينو سره وكتل

په دې ليدنه كې د پنجشيرامنيه قومندان قاري احمدالله بدر، د مرافعه محكمې رئيس شيخ عبدالله سديد، د علماوو شورا رئيس شيخ محمود شريفي، د امربالمعروف، نهي المنكر او شكايتونو اورېدلو او مهاجرينو چارو رئيسانو ګډون درلود.

د ناستې په پيل كې د پنجشير والي حافظ محمد آغا حكيم په دغه ولايت كې د اسلامي امارت لخوا د پراختيايي چارو د پيل او ګڼو لاسته راوړنو يادونه وكړه.

ښاغلي والي په پنجشير كې د كډوالو چارو رياست د ودانۍ جوړولو وړانديز له محترم وزير سره شريك كړ او همدارنګه ښاغلي حكيم

وويل، چې په ياد ولايت كې راستانه شوي كډوال، د دايمي استوګنې په موخه ښارګوټي ته اړتيا لري او له اسلامي امارت څخه يې د يوه ځانګړي ښارګوټي غوښتنه وكړه.

دغه راز ښاغلي محمد آغا حكيم يادونه وكړه چې په پنجشير كې لسګونه كورنۍ د استوګنې لپاره ځمكې نه لري او وړانديز يې وكړ چې د داخلي بېځايه شويو او هغوی چې د كورونو لپاره ځمكې نه لري، ورته يوه سيمه په نظر كې ونيول شي.

ناستې پر دوام د پنجشير د مهاجرينو چارو رئيس محمد رها ابرار د خپلو چارو په هكله وضاحت وركړ او د اړوند رياست د ودانۍ او يو شمېر نورو مسايلو په اړه يې له محترم وزير سره وړانديزونه شريک كړل.

محترم مولوي عبدالكبير د پنجشير سمه ييزو مسوولينو ته ښه راغلاست وويل، د امنيت او په پراختيايي چارو كې يې د هغوي د هڅو ستاينه وكړه.

محترم وزير زياته كړه، چې پنجشير د اسلامي امارت لپاره ځانګړې ارزښت لري او له هرې ممكنې لارې به د پنجشير د ولسونو غوښتنو ته رسيدنه وشي. محترم مولوي عبدالكبير څرګنده كړه، چې يو شمېر مطرح شويو وړانديزونو ته به د مهاجرينو چارو وزارت لخوا رسيدنه وشي او ډاډ يې وركړ چې اسلامي امارت د داخلي بېځايه شويو او له ګاونډيو هېوادونو څخه د راستنو شويو كورنيو ستونزو ته رسيدنه د حكومت لومړيتوب دی.

## د مهاجرينو او راستنېدونكو چارو وزارت له لوري د نيكمرغه لوی اختر د لمانځه مراسم ترسره شول



په دغو مراسمو كې د مهاجرينو او راستنېدونكو چارو د محترم وزير په ګډون د بهرنيو چارو محترم وزير مولوي اميرخان متقي، د امر بالمعروف، نهي المنكر او شكايتونو اورېدلو محترم وزير شيخ محمد خالد حنفي، د اوبو او برښنا محترم وزير عبداللطيف منصور، د بېلابېلو وزارتونو يو شمېر معينانو، په كابل كې مېشتو يو شمېر سفيرانو، ډيپلوماتانو او د امارتي ادارو ګڼ شمېر مسوولينو برخه لرله.

محترم مولوي عبدالكبير، د وينا پر مهال راغلو مېلمنو او حاضرو ديپلوماتانو ته ښه راغلاست وويل او زياته يې كړه، چې اختر د مسلمانانو لپاره د خوښۍ او يووالي ورځ ده، چې له نيكمرغه په افغانستان كې د اسلامي نظام له بركته د امن په فضا كې نمانځل كېږي.

محترم مولوي عبدالكبير د يتيمانو لاس نيوي او د شهيدانو د كورنيو پوښتنه د ټول ولس مسووليت ياد كړ او په وينا يې د اسلامي امارت مسؤولين او عام وګړي دي، له راستنو شويو هېوادوالو سره مرسته وكړي او له هغوی سره دې د اختر خوشحالۍ شريكې كړي.

د مهاجرينو چارو د وزير په وينا، اسلامي امارت د راستنېدونكو افغان كډوالو د هركلي لپاره په بشپړ ډول همغږي رامنځته، مرستې او همكارۍ يې منسجمې كړې او د راستنو شويو د ښه خدمت په موخه په ټولو ولاياتو كې ځانګړې كمېټې كار كوي او دغه راز د راستنېدونكو پروسه په ښه ډول مديريت شوې ده.

محترم وزير د افغان كډوالو له كوربه هېوادونو وغوښتل چې د كډوالو پر وړاندې له صبر كار واخلي او د پاكستان له چارواكو يې مننه وكړه، چې د افغان كډوالو پر وړاندې، زور زياتی كم شوی او د اجبري ايستنې په لړۍ كې كمښت راغلی دی.

نوموړي د بشري مرستو پر نه سياسي كېدو ټينګار وكړ او پر مرستندويو ادارو يې غږ وكړ، چې راستنو شويو ته د سرپنا په جوړولو كې مرسته او همكاري وكړي.

محترم مولوي عبدالكبير افغان ولس ته ډاډ وركړ، چې د اسلامي امارت موخه د ديني احكامو تطبيق، د يووالي ټينګښت او د هېواد ابادول دي. هغه زياته كړه، چې اسلامي نظام له نړۍ سره د اسلام په رڼا كې د مثبت تعامل پلوی دی.

محترم وزير د افغانستان ټول قومونه سره وروڼه ياد كړل او وېې وويل، چې هر افغان بايد په خپله خاوره كې د سكون او اطمينان احساس وكړي.

محترم مولوي عبدالكبير پر غزه د اسرائيلي پوځيانو بريدونه وغندل او هغه يې د بشريت پر وړاندې اقدامات وبلل.

د مهاجرينو چارو محترم سرپرست وزير د وينا په پای كې حاضرينو او د نړۍ ټول اسلامي امت ته د نېكمرغه لوی اختر مباركي وويله.

## د مهاجرينو او راستنېدونكو چارو سرپرست وزير محترم مولوي عبدالكبير د نيكمرغه لوی اختر په دويمه ورځ په څو ناستو كې د اسلامي امارت د كابينې د يو شمېر غړو سربېره له ګڼ شمېر كسانو سره وكتل



په دغو ناستو كې د كورنيو چارو سرپرست وزير محترم خليفه سراج الدين حقاني، د ماليې سرپرست وزير محترم ملا محمد ناصر اخوند، د عامې روغتيا محترم سرپرست وزير مولوي نور جلال جلالي، د احصايې او معلوماتو د ملي اداري عمومي رئيس عبدالقهار حاجي ادريس، د استخباراتو د عمومي رياست مرستيال ملا تاجمير جواد، د وزارتونو يو شمېر معينانو، د ولايتونو امنيه قومندانانو، ګڼ شمېر امارتي مسوولينو، علماى كرامو او ولسي كسانو برخه لرله. د اسلامي امارت چارواكو او مسوولينو د خپلو اړوندو چارو او لاسته راوړنو په يادولو سره وويل، چې حكومتي چارې په ښه ډول د اسلامي امارت له پاليسۍ سره سم پر مخ روانې دي. محترم خليفه سراج الدين حقاني د اختر په ورځو كې د بشپړ امنيت د ټينګښت يادونه وكړه او زياته يې كړه، چې د اسلامي امارت امنيتي ادارې په پوره همغږۍ توانېدلې، چې په ښارونو او لرې پرتو سيمو كې امنيت وساتي. همدرانګه يو شمېر نورو چارواكو او علماى كرامو د لوی اختر په ورځو كې د بشپړ امن په ټينګښت خوښي څرګنده كړه او په دې برخه كې يې د اسلامي امارت د مجاهدينو هڅې او برياوې وستايلې.

محترم مولوي عبدالكبير د اسلامي امارت چارواكو، مسوولينو، علماى كرامو او عامو هېوادوالو ته ښه راغلاست په ويلو سره هغوی ته د لوی اختر مباركي وويله. د مهاجرينو د چارو محترم وزير وويل، چې اسلامي امارت د امنيت په ټينګښت كې خپلې ژمنې عملي كړې او د اسلامي نظام له بركه ټول افغانستان امن دی.

محترم مولوي عبدالكبير د هېواد له شمالي ولايتونو څخه راغلو مخورو ته په وينا كې وويل، چې اسلامي

امارت د ستونزو د حل هڅې کوي او محترم وزیر له یو شمېر پوځیانو سره د سره وویل، چې اسلامي امارت پر خپلو اسلامي نظام پر ولس پورې تړاو لري. لیدنې پر مهال د هغوی د هڅو په ستایلو پوځیانو او د هغوی پر قربانیو ویاړي.

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د نیکمرغه لوی اختر په درېیمه د اسلامي امارت د یو شمېر ملکي او پوځي چارواکو سربېره له ګڼ شمېر علماوو او عامو هېوادوالو سره وکتل



د لیدنو په لړ کې راغلو علمای کرامو، قومي مخورو، مجاهدینو او عامو هېوادوالو په بشپړه امنه فضأ کې د لوی اختر پر لمانځلو خوښي څرګنده کړه او له څو لسیزو وروسته، د اسلامي امارت په واکمنۍ اوسنی امن یې د افغان ولس لویه لاسته راوړنه وبلله. په دغو ناستو کې حاضرو علمای کرامو او مخورو د ولس او اسلامي امارت د مشرانو تر منځ د لاډېرو لیدنو یادونه وکړه او همدارنګه هغوی د ځینو مسایلو په هکله خپلې سلا مشورې له محترم مولوي عبدالکبیر سره شریکې کړې. محترم مولوي عبدالکبیر راغلو چارواکو، علمای کرامو، قومي مخورو او حاضرینو ته د نېکمرغه لوی اختر مبارکي وویله او له اسلامي نظام سره یې د ولس همکارۍ خورا ګټورې وبللې. محترم وزیر زیاته کړه، چې اسلامي امارت د افغانستان رغولو ته ژمن دی او له هرې ممکنې لارې د ولس د ستونزو حل او خلکو ته د خدماتو د وړاندې کېدو هڅې کوي. محترم وزیر یادونه وکړه، چې هېوادوال کولای شي په جرات خپل وړاندېزونه او غوښتنې له حکومت سره شریکې کړي.

## شماری از رییسان مرکزی و کارمندان وزارت امور مهاجرین، با معین مالی واداری این وزارت دیدار های عیدی نمودند



شماری از رییسان مرکزی و کارمندان وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان، با محترم شیخ کلیم الرحمن فانی، معین مالی واداری این وزارت، دیدارهای عید مبارکی نمودند. محترم معین مالی واداری وزارت با خوش آمدید و عید مبارکی به آنان گفت: عید قربان، یاد بود بی‌همتای سرسپاری محض حضرت ابراهیم و حضرت اسماعیل ع در برابر پروردگار و معجزه بی بدیل سخاوت و مهربانی ذات حق تعالی است، و عید قربان یادآور زیباترین نمونه بنده گی انسان در برابر خداوند متعال است. محترم شیخ کلیم الرحمن فانی در ادامه بیان داشت: آرزو مندیم که هموطنان مهاجر ما در داخل و خارج از کشور عید را با خوشی با خانواده های شان سپری نموده باشند. وی گفت: تمنا داریم هموطنان مهاجر ما با عزت و آبرو مندانه به میهن برگشت نموده و مصدر خدمت به کشور خویش گردند و درآینده شاهد این باشیم تا آنان روز های خوش عید را مانند دیگر هموطنان در فضای صمیمیت و دور از خشنونت و رفتار های نا مناسب در کشور خویش سپری نمایند.

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په یوه ګډه ناسته کې د کاپیسا له والي قاري احسان الله بریال او په تورخم کې د مهاجرینو چارو له امر بخت جمال سره وکتل



د ناستې په پیل کې قاري احسان الله بریال، کاپیسا ته د ورستنو شویو د وضعیت په هکله محترم مولوي عبدالکبیر ته معلومات ورکړل او په یاد ولایت کې د مهاجرینو لپاره د ښارګوټي د پاتې کارونو د بشپړېدو غوښتنه وکړه. د ناستې پر دوام د کاپیسا والي په دغه ولایت کې د مهاجرینو چارو ته د رسیدنې په موخه خپل وړاندېزونه له محترم وزیر سره شریک کړل. همدارنګه په تورخم کې د مهاجرینو چارو امر فرضي ګرښې ته څېرمه او په عمري پنډغالي کې راستنو شویو کډوالو ته د وړاندې کېدونکو خدماتو اړوند معلومات له محترم وزیر سره شریک کړل او یادونه یې وکړه، چې کډوالو ته د اړتیا وړ ډېرې اسانتیاوې د اسلامی امارت او یو شمېر نورو اړوندو بنسټونو لخوا وړاندې کېږي. ښاغلي بخت جمال زیاته کړه، چې له پاکستان څخه د کډوالو جبري ایستنې په لړۍ کې کمښت راغلی او همدارنګه د پاکستان له حکومت څخه د راستنېدونکو شکایتونه هم کم شوي دي. په تورخم کې د کډوالو امر یو شمېر ستونزو د هوارې په موخه خپل وړاندیزونه له محترم وزیر سره شریک کړل. محترم مولوي عبدالکبیر راستنېدونکو افغانانو ته د خدمت او د هغوي د ستونزو په حل کې اسلامي امارت د چارواکو او اړوندو نړیوالو ادارو هڅې وستایلې او زیاته یې کړه، چې د افغان کډوالو له کوربه هېوادونو سره د اسلامي امارت خبرو مثبتې پایلې لرلې چې د کډوالو پر وړاندې ناسم چلند کم شوی دی. د محترم وزیر په وینا چې له اړوندو ادارو سره په ګډه به د کاپیسا په ولایت کې د کډوالو د ښارګوټي ستونزې هوارې شي او یادونه یې وکړه، چې اسلامي امارت د ښارګوټو موضوع په جدیت څاري. د ناستې په پای کې محترم مولوي عبدالکبیر څرګنده کړه، چې د ملګرو ملتونو په ګډون له نړیوالو اداره سره ناستې شوې او تمه ده چې راستنو شوو ته لاډېر خدمتونه وړاندې شي.

## بیش از ۱۰۰ تن، در ولایت غور ابزار کار، دریافت نمودند



برای ١٠٤ تن بیجاشده، برگشت کننده و جامعه میزبان، در ولایت غور ابزار کار ، توزیع گردید. افراد متذکره قبلاً در بخش های خیاطی، ترمیم موبایل و ترمیم موتر سایکل به مدت ٦ ماه آموزش های حرفوی را فرا گرفته بودند که پس ازآن ابزار کار بخش های مربوط را از سوی موسسه همکار این وزارت دریافت نمودند.